د احمد فکور ليکنه ۲۵/۰۷/۲۰۱۰

# تر اشغال وروسته

## اوسنی حالت (اشغال، جګړه، اداري فساد او مخدره توکي)

## تر اشغال وروسته (ابرومنده روغه او که داخلي جګړه او د سیمه ایزي سیالی ډګر)

افغانستان د امریکا د متحده ایالاتو له خوا د تروریزم سره د جګړې په بهانه اشغال شوی دی. که څه هم په لومړي سر کې افغانانو پخپل تاریخ کې د لومړي ځل لپاره دې ته هیله درلوده؛ چې استعمار به تر انارشی، کورنی جګړې او طالبي بې سرنوشتی یو څه ښه وي؛ خو چې ویې لیدل امریکا او متحدین یې د استعمار د فرمولونو سره سم چلیږي؛ جګړې اوفساد ته دوام ورکوي؛ د ټولنی اوملت تر ټولو رټل شوي او فاسد ترین خلک په واک کې ساتي؛ او د مخدره توکو او مافیا نه کنټرولیدونکي بلاوي په ملت نازلوي؛ نو دا نتیجه ترې راوزي: د امریکا نړۍخور امپرپالیزم هماغه د تېرې پيړی د استعمار په لارو روان دی؛ خو په نوو او پرمختللو طریقو. امریکایانو د اقلیت ملیشو نه حکومت جوړ کړی؛ په سر کې یې یو بې شعوره پښتون کینولی، خو عملا د پښتنو په کورونو ورننوزي؛ نارینه یې وژني او ښځې یې په سپیو داړي؛ او بیا لا وایي چې د افغانانو وژل یوه له خوند نه ډکه ساعت تیري ده.

نور غربي هیوادونه چې د امریکا له ویرې یا د هغې د خوشالولو لپاره راغلي دي، ځیني یې خپلې اجنداوې لري او ځیني د امریکا کمزوري کول غواړي .

القاعده او نور بهرني جنګیالي چې د طالبانو په پلوی د امریکا په خلاف جنګیږي، هم یوه معما ښکاري؛ امریکایان وایي چې القاعده سل کسان دي؛ چې د ډیورند کرښې په دواړو غاړو کې پټ شوي دي، نو آیا د سلو کسانو د ځپلو لپاره د ۴۶ هیوادونو یو نیم لک پوځ راوستل ضرور دي، که یوه کوماندویي قطعه چې په چریکي توګه دغه سل کسان له منځه یوسي؛ خبره د القاعده نه ده؛ بلکې د منځنی اسیا او افغانستان منابع او د افغانستان سیاسي ـ جغرافیوي موقعیت دی: چې امریکایان پسي راغلي دي.

ګاونډیان هم دې ته خوښ دي چې د جګړې دوام به افغانستان دومره کمزوری کړي؛ چې تر سلو کالو پورې به دوی ته کوم تهدید نه شي جوړولای؛ او د دوی د اجناسو یو ښه مارکیټ به وي. د ایران، هند او پاکستان سیاستونه سره متضاد او ټول د خپلې اجنداوو پلي کول د افغانانو په کمزوري کولو کېویني.

اسلامي هیوادونه به وایي چې پردی غم تر واورو سوړ دی؛ او فکر به کوي؛ چې که افغانانو امریکایان مات کړل؛ د اسلامي امت یو ویاړ به شي؛ او که افغانان نور هم تباه شول نو پر دوی مستقیمه اغیزه نه لري .

سیمه وال (روسیه، چین ـ شانګهای) فکر کوي چې د طالب ګواښ سره د امریکا جګړه په دواړو حالتونو کې د دوی دښمنان وژني، که امریکایان کمزوري کیږي هم دوی پرې خوښ دي او که طالبان مري هم دوی فکر کوي چې د امریکا پخواني ستراتیژیک متحدین مري؛ او له منځه وړل یې دوی ته نا خوښه نه دي.

په داخل کې هیڅ تمه او د هیلو څرک نه ښکاري؛ فاسد دولت چې د بې کفایتی او بې تعهدۍ وروستی پولې ته رسیدلی؛ نه ددې وس لري او نه یې عزم چې دې هیواد ته سوله او ولس ته یې نیکمرغي راولي. د دې حکومت د واک په اساسي ماشین عقده یي اواجیر شوي اقلیتونه ناست دي؛ چې هیڅکله سوله او ارامي او متوازن پرمختګ نه غواړي؛ دغه اقلیتونه همدې ته استخدام شوي دي، چې دا ملک د کلونو او پیړیو لپاره بې ثباته او کمزوری وي؛ او دوی یکې د پردیو په زور ناقانونه واک وچلوي؛ ددوی په سر کې کرزی ناست دی چې تر کارمل هم دې هیواد ته بد نیت لري؛ دې فکر کوي؛ چې اقلیتونه د یو پښتون مشر پوښښ ته ضرورت لري او هغه پوښښ همدی دی؛ دی په هیواد کې د هیڅ شریفانه پروګرام سره نه لیوالتیا لري؛ نه یې استعداد لري او نه


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دغسي عزم لري . دا او نور بهرني او کورني عوامل ددې سبب شوي دي چې جګړه دوام وکړي؛ چې يکې د همدغې مافيا ګټه ده؛ د دې جګړې له برکته په داخل کې د کرزي، فهيم، خليلي او د دوی د ورونو د تجارت بازار ښه ګرم دی او په مخدره توکيو کې د نړيوالې مافيا د ۶۰۰ بيليونو ډالرو ګټې هغوی داسې مست او ليوني کړي دي؛ چې دلته يې د ټول عمر جګړه هم په تاوان نه ښکاري، دا يوازې افغانان دي؛ چې له دې جګړې نه تاواني کيږي .

اوسنۍ جګړه که څه هم د افغانانو لپاره تر ډيره حده يو مجبوريت دی؛ خو له بلې خوا د پاکستان له خوا د افغانانو په وينو د امريکا په ضد رهبري کيږي، ځکه پاکستان ويريږي، چې امريکا به په افغانستان کې تر بريي وروسته د دوی پر لور ورشي او اټومي ځواک به يې درې ورې کړي. خو که چيرته جګړه همداسې دوام وکړي، فکر کيږي چې امريکايان به ستړي شي او د خپلو عوامو تر فشار لاندې به وتلو ته اړ شي. له بلې خوا دا د هند او پاکستان تر منځ يوه ځنګيزه جګړه (Proxy War) چې د افغان په خاوره د افغان په وينو د دوی د خپلو رقابتونو لپاره پر مخ وړل کيږي .

نو بيا به څه کيږي؟ دا هغه پوښتنه ده چې ټول بايد پرې فکر وکړو او د حل داسې لار ورته وګورو چې د ۱۹۹۲ پيښې بيا تکرار نه شي.

که د امريکا د ممکنه وتلو وروسته وسله وال جنګيالي په زور کابل ته راشي،د راتګ ممکني پايلې به يې تر ۱۹۹۲ ډيرې خطرناکې وي؛ لکه:

a. کورنۍ جګړه به بيا ونښلي او د هغې داخلي او بهرني اړخونه به بيا يو د بل د تباهۍ او ماتې لپاره د سيمه ايزو ځواکونو نه د مرستو غوښتو له لارې د هغوی پراخو لاسوهنو ته زمينه برابره کړي؛
b. بيرته به سيمه ايزه سيالي پيل او پياوړې شي او افغانستان به د سيمه ايزو لوبغاړو د بزکشۍ په ډګر بدل شي:
c. د کار يو څو کادرونه چې روزل شوي، ټول به يا په مرګ او يا په ژوند له هيواده ورک شي؛
d. دغه کمه بيا رغونه هم چې شوې ده؛ ټوله به له خاورو سره خاورې شي؛
e. دا ځل به انتقام اخستنې تر پخوا سختې او بيرحمې وي، يو لورى به فکر کوي چې د امريکا او [يهودو او نصاراو ګوډاګيان] وژني، او بل لوری به د خپل ژوند د بقا لپاره تر وروستنې حده مقاومت کوي؛
f. د مملکت سياسي نظام به وپاشل شي، د ملي اردو، ملي پوليسو او نورو موسسو بنسټونه به داسې ونړول شي، چې تر سلو کالو به يې بيا افغانان د جوړولو وس نه لري؛
g. هر لورى به د انحصار او يکه تازۍ کوښښ کوي او خپل حريفان به د هيڅ ډول انساني حقوقو مستحق نه ګڼي او په بيرحمۍ به يې له منځه وړي؛
h. او داسې نور ډير بد عواقب .

نو حل لاريې څه ده

۱. تر څو چې امريکا په فرعوني زور د پښتنو په کورونو او کليو بريدونه کوي او په دننه کې يې حکومت د شمال ټلوالې لنډه غرو او د کرزي د فاسدې کورنۍ منګولو ته پريښې وي؛ نظامي مقاومت ته دوام يو چاره نه لرونکې ضرورت دی؛
۲. په دننه کې دې ولس د عدم تشدد په اصولو منفي ملکي مقاومت پيل کړي، د امريکا د شومو پلانونو سره دې د رسنيو او سوله ايزو ملکي لارو مقاومت او مخالفت وکړي او ورته ودې ښايي؛ چې افغانان د دوی د استعماري پلانونو سره جوړ نه دي، (که څه هم داسې ښکاري چې دغسې ملکي مقاومت به زر پراخ نه شي، او په دې اوسني کمزوري شکل کې به روان وي، خو که نظامي مقاومت مات شي، نو د دې ډول ملکي مقاومت ضرورت ډيريږي او د هيواد د خپلواکۍ لپاره د يوازيني بديل په توګه پاتې کيږي) .
۳. د نظامي او ملکي مقاومت دواړو په منځونو کې يوې کلکې هماهنګۍ ته اړتيا ده او دغسې هماهنګي بايد رامنځته شي؛
٤. د جګړې او مقاومت او سولې او روغې جوړې تر منځ بايد يو توازن وي، (تنور بايد دښمنانو ته دومره ګرم نه شي چې تاو يې موږ پخپله وسيزي)؛


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

۵. ابرومنده جوړه تر ټولو غوره بدیل دی؛ ګاونډیان او سیمه ایز ځواکونه زموږ سره ښه نیت نه لري، امریکا د روسي اشغال په وړاندې د افغان جهاد په ملاتړ د ولس په زړه کې یو محبوبیت درلود؛ کیدای شي د همدغه احساس پر بنسټ افغانان له امریکا سره د ستراتیژیکې همکارۍ یو داسې تړون وکړي، چې امریکایان په ابرومنده توګه له افغانستانه ووزي؛ او د افغانستان د دولت او نظام ډانچه روغه پاتې شي. اوس لویه پوښتنه داده چې دا کار به څوک کوي؟ طالبان، حزب اسلامي، د دولت په دننه کې مطرح خلک، کرزی، شمالي ټلواله که نور څوک؟ که طالبان د پاکستان تر مطلقې اغیزې لاندې وي، نو دوی به له انحصار او یکه تازۍ نه تیر نه شي او دغسې غوښتنې به نور مقاومت ته مجبور کړي، چې نتیجه یې هماغه کورنۍ جګړه ده چې موږ ټول ترې ویرېږو. که حزب اسلامي په رهبرۍ کې راشي، نو یو خو حزب اوس لومړنی مطرح نظامي ځواک نه دی او له بلې خوا دوی هم د داخلي مخالفت سره مخ کیږي؛ کرزی او شمالي ټلواله خو اصلا دغسې مشري نه شي کولای؛ نو وړاندنیز دادی؛ چې د ټولو افغان مطرحو سیاسي ـ نظامي اړخونو تر منځ دې بین الافغاني غونډه جوړه شي؛ چې هر اړخیز باور رامنځته کړي؛ د ملګرو ملتونو سازمان د امنیت شورا او د امریکا متحده ایالات دې د افغانستان د بې طرفۍ او د بین الافغاني توافق د عملي کولو تضمین وکړي؛ روسیه، پاکستان، هند، ایران، چین او نور ګاونډیان دې هم په دې قانع کړل شي، چې افغانستان به د یوه په ګټه او د بل په ضرر نه استعمالیږي؛ او د سیمې او نړۍ په یوه فعال همکار به بدلیږي.

په دې صورت کې ممکنه ده، چې مسله په داسې ډول حل شي چې د راتلونکو فاجعو مخه ونیول شي.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ